خوشحال آصفي ۲۰۱۶/۱۱/۱۶

د معافيت فرهنګ، د جنايي پيښو د زياتيدو عامل

کله چې د افغانستان نوم اخيستل کيږي نو په طبيعي ډول د انسان ذهن ته د افغانستان د اوسنيو سياسي، امنيتي او اقتصادي ستونزو انځور راوړل کيږي. دا هغه هيواد دی چې ډير ځله د بدبختو هيوادونو په سر کې راځي. دلته نه امنيتي، نه سياسي او نه هم اقتصادي حالات په نورمال حالت کې دي، دلته يوه ډله خلک د خپلو پيسو، مال او جايداد په شمارلو ستړي کيږي خو بل لور ته داسې خلک هم شته چې سهار يې وخوري نو مابنام ته د يوې مړۍ ډوډۍ لپاره حيران وي، دلته يوه ډله خلک د خپلو چکرونو او عياشيو لپاره د بهرنيو سفرونو مهالويشونه جوړوي خو داسې خلک هم شته چې ښار ته د تداوۍ لپاره ډاکټر ته د خپل ناروغ د وړولو کرايه نه لري، دلته يوه ډله خلک په آن بازار ته د چکر لپاره هم په زرهي موټرو کې ورځي خو بل لور ته داسې خلک هم شته چې په مياشتو ـ مياشتو د وسله وال په محاصره کې دي خو ځوک يې غم نه خوري او دلته داسې خلک هم شته چې د خپلې يوې مړۍ په خاطر د بل په مړۍ چاړه ږدي. دلته ډيرى داسې ډلې فعالې دي چې خپل ژوند د بل د ژوند په اخيستلو او ربړولو کې لټوي.
داسې په لسګونو پيښې دلته شوي دي چې يوې له خدايه نه ډاريدونکې ډلې يو د خپل بچي د مړولو لپاره د بل بچی ښکار کړی وي. د همدې ډول پيښو يوه يې کابو له ځلويښت ورځو وړاندې په فراه ولايت کې شوې ده چې تښتوونکو د نوید په نوم يو پنځه کلن ماشوم وتښتولو چې له نيکه مرغه تيره ورځ د افغان امنيتي ځواکونو په عملياتو کې د تښتوونکو له منګولو روغ رمټ راخلاص شو. د دغه معصوم کوچني کيسه هغه وخت برسيره شوه چې تښتوونکو د دغې ماشوم د ځوروني ويډيو د نوموړي کورنۍ ته واستوله. ويډيو په ټولنيزه ميډيا کې هم ډيره خپره شوه او ليدلو يې ډير خلک ودردول. دغه ماشوم ۴۰ ورځې د غلو سره و چې تيره ورځ د امنيتي ځواکونو په عملياتو کې له تښتونکو آزاد او د جنايت سره په تړاو کې ۴ تنه هم نيول شوي دي. د فراه والي آصف ننګ ويلي، چې تښتوونکو په لومړي سر کې د ماشوم له کورنۍ نه ډيرې زياتې پيسې غوښتې وې.
دغه معصوم کوچنی (نوید) د نوموړي له کور څخه په څو کيلومترۍ کې د فراه ولايت په شمال په فريدون قلعه سيمه کې په يوه ځمکتلي کې د تښتوونکو لخوا ساتل کيده. د نوید په وجود د تښتوونکو د تيري او شکنجې نښانونه معلوميږي، چې پر وينا يې تښتوونکو ډير ځورولی او حتا کافي ډوډۍ يې هم ورته نه ورکوله. د دغې کوچني بدن اوس دومره ضعيف شوی دی چې آن په خپلو پښو د دريدلو توان هم نه لري. له رسنيو سره په خبرو کې نوموړي په خپله ماشومانه ژبه ويلي چې تښتوونکو هغه وخت وتښتولو چې د خپل کور په خوا کې يې لوبې کولې.
دا لومړی کوچنی نه دی چې د پيسو د ترلاسه کولو لپاره له خپلې کورنۍ تښتول کيږي بلکې له وړاندې هم په لسګونو پيښې ترسره شوي دي چې له نوید وړاندې بله تازه پيښه يې د شهيد اباسين ځاځي ده. نومورى کابو يو کال وړاندې په کابل ولايت کې د څو تنو سړي تښتوونکو لخوا وتښتول شو. تښتوونکو د اباسين له کورنۍ څخه پيسې غوښتې نو لمړی يې د هغه ګوته پرې کړې وه او وروسته يې په بې رحمانه ډول سره وژلی وو چې وروسته يې جسد په کابل کې وموندل شو. د هغه په وړاندې دې بې رحمانه ظلم د هيواد په کچه سخت غبرګونونه پارولي و چې په بيلابيلو ولايتونو کې يې عاملينو ته د سزا ورکولو په خاطر لاريونونه هم وشول. ملي امنيت د اباسين ځاځي د قاتلانو د نيولو خبر ورکړ خو محکمه يې چا په سترګو ونه ليدله.
که چيرې د اباسين ځاځي او همداشان د نورو سړي تښتوونو پيښو عاملان يو يا څو يې په علني توګه په عام محضر کې اعدام شوی واى نو پرته له شکه چې د انسان تښتوونو په پيښو کې به کموالی راغلی و. خو له بده مرغه چې له سزا نه د معافيت قانون اوس هم په هيواد کې حاکم دی او قاتلان، غله او ډاره ماران سړي سترګې ګرځي. حکومت بايد په داسې پيښو کې چې د نورو لپاره د عبرت وړ ګرځي؛ هيڅ ډول ناغيړي ونه کړي او د هر ډول جنايت عاملان بايد علني محاکمه کړي څو د نورو لپاره پند شي. يو ځل بيا هم وايم که چيرې د اباسين ځاځي قاتلان په علني توګه محاکمه شوي او په دار ځړول شوي واى نو نن به لکه نوید (تښتول شوی ماشوم چې خوشې شو) په شان ماشومان هيڅا د پيسو د ترلاسه کولو لپاره نه تښتول.

پای

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ